**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**حزب التحرير- کینیا د نړیوال انفلاسیون په اړه سیمینار وړاندې کړ**




حزب التحریر- کینیا د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د بیا تاسیس هڅه کوي او له ډېرو هلو ځلو وروسته یې یو بل سیمینار هم وړاندې کړ، چې پر ورځني ژوند په ځانګړې توګه پر بېوزلو خلکو د انفلاسیون ناوړه اغېزې یې پکې په ګوته کړې.

له پانګوال اقتصادي نظام څخه راپیدا شوې ستونزې چې اوس پر نړیوال ناورین بدلې شوې، لاندې ناوړه پایلې یې رامنځته کړې دي:

ـــــــ د پیسو بې ارزښته کېدل

ـــــــ ناانډولي

ـــــــ د اسعارو د بیو بدلون

ـــــــ د پور پر اخیستلو لوړ لګښت

ـــــــ د ورځني ژوند د لګښتونو لوړوالی

ـــــــــ د ثابت عايد پر درلودونکو ناوړه اغېزې لکه: متقاعدين، معاش درلودونکي کارمندان او هغه کسان چې په بانکونو کې خپل عايد سپموي.

دا سيمينار د ۲۰۲۲م کال د جون پر ٢٦مه د «کليفي کاونټي» په «متواپا» ښار کې تنظيم شوی و او د انفلاسيون ناورين د تحليل پر بحث سربېره يې حل لارې هم وړاندې شوې، چې تر سلو ډېرو کسانو پکې ګډون کړی و.

دغه سيمينار د حزب التحرير- کينيا د مطبوعاتي دفتر د دوو مخکښو غړو علي عمر او په کينيا کې د حزب التحرير د مطبوعاتي استازي شعباني مواليمو له لوري وړاندې شو.

**شباني مواليمو**

**د حزب التحرير- کينيا مطبوعاتي استازی**